مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ګل جان صابر ژباړه ۲۰۲۲/۰۱/۰۹

# پلار او اولادونه

## د کوچنیانو له پاره کیسه

و نه و یو سوداګر و. هغه یوه ورځ خپلې مېرمنې ته وویل:
- زه او ته اوس زاړه شوي یو، ډېر وخت نور به ژوندي نه وو. موږ شتمن یو او ډېر شته لرو.خپل شته به د خپلو دوو لونو تر منځ ووېشو، بې له هغې هم زموږ شته دوی ته پاتې کېږي، زه او ته به بې له کومې اندېښنې خپل پاتې عمر تېروو. نن په د یوه زوم کره وواو سبا د بل کره، په دې ډول به د خپل پاتې ژوند شپې او ورځې په خوښۍ او خوشالۍ سبا او بېګاه کوو. کله چې زه او ته مړه شو نو د دوی تر منځ به داسې څه نه وي پاتې چې جنجال پرې وکړي. ته، مېرمنې په دې برخه کې څه وایې؟
- که وپوهېږم چې زومان مو زموږ پرېکړه مني زه هم موافقه یم. زه وېرېږم چې هغه متل په موږ عملي نه شي:«که شتمن وې درسره ښه یم او که نه نو کرکه درڅخه لرم».
کېدای شي چې زومان مو په لومړي سر کې ښه وپالي خو وروسته به راڅخه بېزار شي. هله به نو موږ څه کوو؟ او که چېرې زه ستا څخه ډېره ژوندی پاتې شم هله به نو څه کېږي؟ هسې خو نه وايي چې:«د خوانۍ له پاره سخته ده چې د زوم په خوښه ژوند وکړي!». څه چې د خدای(ج)خوښه وي همغسې وکړه، خو زه ستا څخه یوه هیله لرم او هغه دا چې ته خپلې ټولې پیسې هغوی ته مه ورکوه تر څو زه او ته په دې وروستي عمر کې غمونه او خواري و نه ګالو او خپل شته د بل د لاسه موږ ته را ووزي. موږ خونه پوهېږو چې کله به مرو. نابوده سوله تر ښې شخړې ښه ده.

سپین ږیري سوداګر د غرمې ښه او خوندوره ډوډۍ تیاره کړه، زومان، لوڼې او د هغوی اولادونه یې را وغوښتل،کله چې ټولو ډوډۍ وخوړه نو سوداګر خپله پرېکړه دوی ته واوروله. زومانو او مېرمنو یې په ډېره خوشالۍ د دوی پرېکړه ومنله. په خدای(ج) یې سوګند یاد کړ چې د عمر ترپایه پورې به د دوی چوپړ او دوی ته به پاملرنه کوي.
پلار تر مړینې د مخه خپل شته د دوو لونو تر منځ ووېشل، خو د خپلې مېرمنې خبره یې هم ومنله او یو اندازه پیسې یې د بدې ورځې له پاره له ځان سره پرېښوولې، داسې لکه ځوانان چې د بدې ورځې له پاره وسله له ځان سره پټه ساتي.
وروسته له دې زومانو په نوبت خپل خسر او خواښې د غرمې او ماښام ډوډۍ ته رابلل.
د سوداګر لورانو ډېر، ډېر اولادونه لرل او سوداګر به هره ورځ خپلو لمسیانو ته ډالۍ راوړلې، خو ژر یوه شو چې بټوه تشېږي نو ځکه یې د ډالیوراوړل بس کړل.
زومان او لوڼې د ډالیو د نه راوړلو له امله خواشیني ښکاربدل، داسې ترېو، ترېو یې کټل لکه چې خوښ نه وي.
د لونو او زومانو دې کړنې سپین ږیرې خپه او خواشینی کړ.

سوداګر یوه ورځ د خپل پرېښوول شوي کور مخ ته خواشینی او غمجن ناست و، په دې یې خوا بده وه چې په خپلو اولادونو تېروت.

د سوداګر ګاونډی، د ده پخوانی ملګری او دوست هم د ده په څېر سپین ږیری سړی و. هغه له کرکۍ څخه ولیدل چې د ده مللګری خواشینی او غمجن ناست دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

نو خپله لوی پیک لرونکي شاپو خولۍ او لکنه یې راواخیستل او خپل ګاونډي ته راغی. هغه خپل ملګري ته ستړي مشي ورکړل او ویې وویل:
- ته ولې داسي سره تاوېږې؟ د څه ستونزې سره مخامخ شوی یې او څه هیلو ته زړه خورې؟ زه پوهېږم چې تا شته او پیسې ټول کړي دي- د موش خرما په څېر دې ژمي ته تیاري نیولې. ستا روغتیا ښه ده او د خپل عمر له پاره ښه ځواکمن او تندرست یې. هېڅ څه ته اړ نه یې، هر څه لرې.
سوداګر سوړ اسوېلی وکړ او ویې ویل:
- ای ملګریه، پوښتنه مه را څخه کوه، مرسته نه شي راسره کولې، زه په خپله ملامت یم. ښه هوښیار وم خو یو ځل عقل را څخه ولاړ نو ځکه ځورېږم. هر څه مې چې ټول کړي وو، زما ټول شته او پیسې خاورې ایرې او په اوبو لاهو شول.
د سوداګر ملګري پوښتنه څنې وکړه:
- ولې داسې وشول؟
- هر څه مې خپلو ناشکره لورانو ته ورکړل او اوس پښېمانه یم.
ملګري یې ور ته وویل:
- ملګریه، ښه کار د نه دی کړی، ولې د په ژوند هرڅه خپلو اولادونو ته ورکړل؟ زوم- پردی هډ دی او مېرمني هر وخت خپلو مېړونو ته غوږ نیسي.خسر په زومانو باور نه کوي! زه به تا له دې کړاو نه وژغورم خو ته به نا پوهي نه کوې، ما ته به غوږ نیسې. راتلونکي ته اندېښنه مه کوه، په شیدو سوی مستي پو کوي.
هغه خپلې خبرې داسي پسې اوږدې کړې:
اوس به داسې وکړو چې ته به زما په لګښت ډېره ښه مېلمستیا تیاره کړې، خپل زومان، لوڼې او د هغوی اولادونه به راوبولې. ګاونډیان او ملګري هم را وبوله.
زه به تر ټولو وروستی در شم او له ځان سره به یو څه در وړم. ته به حیرانېږې نه یوازې وبه وایي چې:«آیا دا لازمه وه چې اوس دا کار وکړې، ته فکر کوې چې زما سره نورې پیسې نه شته؟» ، موږ به ټولو ناستو کسانو ته ور وګورو او دا به ور وپوهوو چې د سپین ږیرو دا متل په یاد دی چې وایي:«د پور ور کول ډېر ښه دي»
سپین ږیري سوداګر مېلمستیا وکړه، زومان، لوڼې او د هغوی اولادونه، ګاونډیان او ملګري یې ټول را وبلل. ټول راغلل خو په مېز یو ځای تش و. د کور خاوند خپل ملګري ته منتظر و. مېلمنو ډوډۍ وخوړه خو د کور د خاوند ملګری لا نه دی راغلی. د کور خاوند څو پلا دروازه خلاصه کړه او بېرون ته یې وکتل خو په تأسف چې دده د ملګري درک نه و.«په راتګ سره راځي،زه هغه ډېر ښه پېژنم چې خبره وکړي بیا نو په هغه ټینګ ولاړ وي. زه له دې څخه وېرېږم چې د هغه نا وخته راتلل به له دې امله وي چې د هغه وخت حسابونه به کوي چې ما او ده یو ځای سوداګري کوله. هغه به داسي فکر کوي چې ښه نه ده چې له حساب پرته مېلمستیا ته ورشم».
د کور خاوند لا دا خبرې نه وې خلاصې کړې چې ملګری یې را ننوت.هغه په سختي سا ایستله ځکه چې یو صندوق یې په شا کړی و. د سوداګر ملګری چې را ننوت له ټولو سره یې ستړي مشي وکړه او د کور خاوند ته یې وویل:
- ملګریه ایرکو! ښښنه غواړم چې بې وخته مې نا آرام کړې. ملګریه، زما لپاره ډېر شرم و چې ستا مېلمستیا ته بې له دې چې ستا پخوانی پور در کړم راغلی وای.
ما څو ځله تا ته وویل چې ته دا خپلې پیسې واخله او زما سره حساب وکړه خو تا دا کار ځنډاوه. ما ستا پیسي راوړې او هغه مې حساب کړې دي. دا هم د حساب پاتې دې ته به یې وروسته وګورې او پیسې به هم حساب کړې. زه اوس داسې یم لکه یو غر مې چې له اوږو لیرې شوی وي.
د کور خاوند ور ته وویل:
- ملګریه! ما ته د دې له پاره نه وې رابللی چې ما ته پیسې او حساب راوړې. ما غوښتل چې ته زما مېلمه شې او زموږ سره یو ځای یو څو شېبې خوشاله تېرې کړې. خو اوس چې تا پیسې راوړې تر څو ارام شې نو دا صندوق د هغه الماری څټ ته کېږده، زه به بیا وروسته پیسې وشمېرم او حساب به وګورم. که چېرې زما ټول پوروړې ستا په څېر رېښتیني وای او په خپل وخت یې پیسې راکړې وای نو ما به ځان په دې ډېر نه ملامتاوه چې زه ډېرمطیع او سخي یم.
زومانو، لوڼو او ټولو مېلمنو دوی ته کتل او د دوی خبرې یې اورېدلې چې څه وایي. وروسته یوه زوم بل ته وویل:
- خسر ته ګوره! ځان یې داسي ښود چې یوه پیسه نه لري خو ته وګوره چې څومره لري،او څومره به نورې ولري!
لوڼې هم یوه له بلې سره په همدې ډول پسپدلې.
د سوداګر یوې لور خپل مېړه ته وویل:
- ته ما ته غوږ شه، راځه چې بیا پلار او مور د غرمې او ماښام ډوډۍ ته خپل کور ته راوبولو.
مېړه ځواب ورکړ:
- هرومرو، مور او پلار باید خوشاله وساتو.
دوهمې لور خپل مېړه ته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

- تا واورېدل چي خور خپل مېړه ته څه وويل؟ هغوی بیا مور او پلار خپل کور ته را بولي او غواړي چي هغوی خوشاله وساتي. موږ به هم همداسي وکړو چي مور او پلار موږ د مړيني په وخت کي هېر نه کړي. ته وګوره، پلار يو صندوق پیسي لري، موږ ته يې څومره ښه مېلمستیا راکړه. برسېره پر دي الماری هم ډکي دي.
خاوند ځواب ورکړ:
- مېرمني، ته رښتیا وايي، موږ باید بیا د پلار او مور چوپړ وکړو او هغوی د سترګو د کسي په څېر وساتو.کله چي د دوی سترګي پټي شوي زموږ هر څه به سل چنده شي.
لورانو د خپلو خاوندانو سره دا پريکړه وکړه چي څرنګه د مور او پلار چوپړ وکړي او هغوی خوشاله وساتي. هغوی فکر وکړ چي نوري ډېري پيسي به هم لاس ته راوړي.
سپین ږیري او سپين سرې پلار او مور وروسته له دې خوشاله ا و ښه ژوند لرلو، اولادونو په نوبت د دوی ښه چوپړ کاوه، ښه خواړه او اوبه يې ورکول او داسي ښه يې ساتل چي هغه  د چا خبره مچ يې نږدې نه ور پرېښود.
سپین ږیري ایرکو به هر وخت خپل هغه ملګری ور په یاداوه چي دی يې د ستونزو او سختیو څخه وژغوره. اولادونو آرزو لرله چي د پلار د مړيني وروسته به خدای خبر چي څومره شته لاس ته راوړي.
سپین ږیري سوداګر خپله مېرمن خاورو ته وسپارله او يو څه وخت وروسته ده هم له دې نړی کډه بار کړه. هغه په خپل وصیت کي لیکلي وو:«ګرانو لونو، کله مو چي زه په درناوي سره خاورو ته وسپارلم، هغه لوی صندوق به خلاص کړی هلته به زما میراث تر لاسه کړی».
لونو پلار په درناوي خاورو ته وسپاره. د پلار د کټ د لاندي څخه يې لوی صندوق چي درې کلپونه ور اچول شوي وو، را وایست. په کلي ګانو يې کلپونه خلاص کړل، د صندوق سر يې پورته کړ خو هغه تش و، یوازې یو لیک پکي پروت و او په هغه کي لیکل شوي وو:
«ګرانو لونو! تاسو زما په ژوند زما ټول شته او پيسي په مساوي ډول تر لاسه کړل. اوس لکه چي تاسو وينی صندوق تش دی، خو دا صندوق د هغو سرو او سپینو زرو ډک و چي ټول تاسو واخیستل. نور میراث ته تمه مه لری بلکه خدای(ج) ته دوعاوې وکړی، کار وکړی، سپما وکړی نو تاسو به هم شتمن شی»
ستاسو پلار ایرکو

د کروویشیا د خلکو کیسه
د ګل جان صابر ژباړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ